خالق رشید

۰۹ جون 2015

# اوپژوا ک هم آرام شو !
## شلم تلین



لایی دوی اوونی پرنابوده پاتی وې ، دجمعی مبارکہ ورځ وه چی زما یو دوست پہ بیړه راغی اوراتہ ویی ویل : ځو چې پژواک صاحب وګورو.

رښتیا زما ملګري لہ ما سره څه موده پخوا وعده کړې وه چې یوه ورځ بہ زه راشم اوبیا بہ پہ ګډه دده لیدو تہ ورشو ... اونن هغہ ورځ رارسیدلې وه چې زه او هغہ دواړه دا ستاد دمینی پہ لور وخوځیدو . هو د استاد مینہ اوس د پیښور ر پہ ډیروښو او د چاخبره . عصري کورونوکې وه ، هو پہ عصري کورونوکې !

هغہ مهال چې موږ.لا پہ کابل کې وو او کابل لاد اور اووینو پر سیند نہ ولاهو شوی ، لاد رڼاوو امیدونہ پہ کې نہ وو زندۍ شوي ، هرڅوک بہ چې لہ پیښوره راغی او یا بہ یې د پیښور دښار ددغې سیمې پہ باب خبره را واخیستہ نو ویل بہ یې چې دغہ سیمہ د پیښور وزیراکبرخان مینہ ده . هغہ وخت موږ تہ داخبره یو ډول ښکاریده ،خواوس چې زه کلہ دهمدې سیمې برې خواتہ ګورم لہ ځان سره وایم چې داخو پہ رښتیا هم باید پہ پیښورکې وزیراکبرخان مینہ وای ځکه د همدغې سیمې بره خوا جمرود دی ، هغہ میدان چی نامتو غازي اکبرخان دلتہ د سکانو د لښکر تیری کونکی نامتوسردار هری سنګهہ نلوه پہ خپل لاس وواژه او بیا پہ زرګونو جګړه مارو سکانو د همدغہ اوسنی حیات آبادپه بټي بیا بان باندې لیونۍ مندې وهلې او د پشتنو نومیالیو وربانډې رڼا ورځ توره شپہ کړې وه ...

پہ هرډول ، سیوري کاږه شوي وو ، چې موږ په نوموړې سیمه کې د استاد کورتہ ورسیدو او نیغ پہ دویم پوړ کې هغې خونې تہ ورغلو چې دی پہ کې مامره ناست و ... دخپل توان پہ اندازه یې زموږ ښه تود هرکلی وکړ ، دا لومړی ځل و چی ما استاد لہ ښوارلسوکالو وروستہ لیده ، پہ دغہ دومره موده کی اوس دده پہ څیره او کړو وړو ، په خبرو او افادو کې ډیرلوی بدلون راغلی و.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده خبری کولی ، غږیده ، خوهغه شور اوهغه مستی چی ما دده په خبرو کې پخوا لیدلی وه هغې اوس خپل ځای دېژواک په ځپو کې د زړبودیَ او عاطفي سترګو او کتو ته پرېښي و ، همداوه چې ماته چې دده له خبروسره سم دده دیوه ډېر پخواني غزل دسربیت را یادشو اودده دکتنې ترپایه مې هغه د ذهن لمنه پرې نښوده اوراسره زمزمه کیده چې :

**هم هغسې چې خنداکې هنرنشته        په ژړا کې هم له سره اثرنشته ...**

ما ځوارلس کاله دمخه استاد په کابل کې لیدلی و ، هو ، په کابل کی ، په هغو شپوکې چې لا یې خپلې پښتنې منګولې دسره ښامار په کومې کې بندې وې ، لاېې مقاومت کولای شو اولایې په ډاګه ویل :

« روسانوپر هر ډول انساني ارزښتونو پښې ایښيې اوزموږ پرهیوادیې یرغل کړی دی . داچې دوی یرغل خپل رواحق بولې همداسې موږ هم حق لرو چې ددوی په مقابل کې مقاومت خپل روا حق وبولو ....
هو،ما استاد په هم داسې شپوکی لیدلی و ، په هم هغو شپوکې چې لا یې د زړه شیمه وه ، لایې روښانه سترګې او دنګه پزه د مخ پر روښانه تخته باندې روښانه معلومیدې ، لایې آواز ترخوله اوچت راووت او دملې احساس پراوړو باندې تر هندکو او شمشاد هم هرچا اوچت اوریده او هرچاورسره بدرګه او زمزمه کاوه :

**بدرګه که محبت راسره نه وای ... یک تنها به په خونخوارو لارو تلل څو ک .... ؟**

خو دریغه اوس چې هره شیبه ما ده ته له هرې خوا کتل ، بیا هم زه له ده سره نه وم ، دده په باب مې فکرته بل رنګ انځورونه راتلل او دده هغه څه را یادیدل چې موږ او س دهغو په باره کې فکرهم نه شو کولای ، دی دخپلې زمانې یوازنی اتل و چې زما دپلار او نیکه ، ستادپلاراونیکه په ملا نیم شوی ، په وینولیت پیت بدن یې د نړیوالو په مخ کې کیښود او دګردو په وړاندې یې ووې :

« داد آمو اوباسین د لیونیو پلار ، داد هندکو او شمشاد د اتلانو بابا ، دغه دکروړ دحماسو رستم د آزادۍ پر ډګر پروت دی او د خپلو لیونو پښتنو لپاره آزادي غواړي ، هو آزادي ... آزادي ، آزادي .... .....

ما همدا تیرې را یادولې چې یوځل مې بیا دده شعرونه په ذهن کې را پژواک شول ...

**هم هغسې چې خنداکې هنرنشته        په ژړا کې هم له سره اثرنشته ...**
**... په ژړا کې هم له سره .... په خندا کې هم له سره ...**

ترمازدیګره ورسره کیناستو ، د ویرژلي هیواد ، په ویرونو دومره په سوز او درد غږیده چې موږ ته یې دخپلو خبرو په ترخ کې څو ځوځلې ژړا راوسته ، ده دخپل سرکښ ملت پرا وسنې مظلومیت باندې افسوس کاوه، په دې اړه یې په ډېرو خبرو کې یوه دا ډېره جالبه وه چې په یوه ځای کې یې ترخوله راووته :
« زما په مرغانوکي زانې خوښیږی ، دهغوی الوتنه مې خوښیږي ، دهغوی د سیلونو کتارونه خوندراکوي ، ځکه چې بی (میره ) کله هم الوتنه نه کوي ، خودریغه چې موږ ، هغومره هم نه شو ...
هو، دریغه چې له هغوی نه مو یو څه زده کړي وای ...

له استاد سره زموږ ددغو دردو او دغو فریادو په لامل دچاخبره یووارهم ګذر دیوې ترخې خندا پرګودر ونه شو ... ترډېرو پورې مو ددغه دیدن ترخو او درنو خبرو په ذهن کې خپل درانه انګازه کول ، دده خبرو به چې دده له کتو وروسته ذهنی ښکیل راکړ ، تسلي به موهم یوازې په همدې وه چې :


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**هم هغسې چې خنداکي هنرنشته          په ژړا کې هم له سره اثرنشته ...**

دوی جمعې په دې کې تیرې وې چې یوما ښام زما هغه دوست چې زه یې د استاد کورته بیولی وم یوناڅاپه کورته را غی ، ترروغبړ دمخه یې په ډکو سترګو ترخوله راووتل :
او پژواک هم آرام شو ، هوپژواک ... !
نور به هغه د هندکو او شمشاد په لړیو کې خورپژواک وانه ورو ، نور به تردېرو د آمو او اباسین دڅپو اونغمو یو رنګی او یوزړی آواز څوک او چت نه شي کړای ، ځکه په هغه پژواک کې چې د ... بابا غږ پورته شوی و ، هغه نور دلته د اوریدو نه دی ، او نه یې موږ پر خپلو درنو غوږو باندې اوریدای شو ... اخ . اخ . « لاس دمات شه ای فلکه ... »
ماته هم ژړا راغله ، له ملګري سره مې داستاد په مرګ وژړل ، هو، دپژواک پرمرګ ، دپښتنو د آزادۍ دلارې دمشال په مرګ !
سم لا ناست نه وو چې په همدغه ویزکې مې ددغه کال دیادښت کتابچه نابېره لاسته راغله ، غوښتل مې دده د مرګ نېټه او شیبه په کې ولیکم ، یوه دوی پاڼې مې نه ووې سره اړولې چې دده هغه دکاڼي کرښه خبره مې دکتابچې پرمخ سترګو ته ټیکه ودریده :
« زما په مرغانوکې زاڼي خوښیږی ، دهغوی الوتنه مې خوښیږي ، دهغوی د سیلونو کتارونه خوندراکوي ، ځکه چې بې (میره ) کله هم الوتنه نه کوي ، خودریغه چې موږ ، هغومره هم نه شو ... هو، دریغه چې له هغوی نه مو یو څه زده کړي وای ...

پېښور ، د ۱۳۷۴ کال دجوزا ( ۱۹ )


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ